شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریک نشراتي ارګان

ناجوړ او مسافر ته آسانتیا

لوي خدای(جل جلاله) فرمایي:

څوک چې ناجوړه وی او یا په سفر کی وی(روژه و نه نیسی) نو په نورو ورځو کی دی(د خوړل شویو ورځو) شمیره پوره کړی. الله(جل جلاله) له تاسی سره آسانتیا کول غواړي او په تاسی باندی سختی کول نه غواړي. (البقرة: ۱۸۵)

روژه پخوانی ګناهونه بښی

حضرت ابوهریرة(رض) وایی: د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «چا چی د ایمان او عقیدی په اساس او د ثواب ترلاسه کولو په نیت روژه ونیوله دده پخوانی ګناهونه به وبښل شي. او څوک چی د ایمان او عقیدی په اساس او د ثواب ترلاسه کولو په نیت ودریدل(عبادت او تراویح یی وکړل) د هغه پخوانی ګناهونه بښل کیږی.»

(دغه حدیث په صحت باندی د امام بخاری او مسلم اتفاق دی)

لومړی کال | ۳ ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷٤ش کال د سلواغی (دلو) د میاشتی (۱٦) | د ۱۹۹٦ میلادی کال دفبروری (٥) | د ۱٤۱٦ق کال د رمضان المبارك (۱٦)

دکابل اداری بله رسوایی

کابل ته راروانه وسله په قزاقستان کی ضبط کړای شوه

یوځلی بیا ښکاره شوه چی دکمونستانو په شانی دربانی اداره هم دروسانو له خوا په وسلو سمبالیږی

وحدت:د فروری ۲:

— د بی بی سی له خبر سره سم څو ورځی مخکښی په قزاقستان کی د هغې الوتکی دنیول کیدو رپوټ ورکړ شوی ؤ چی کابل حکومت ته یې وسله انتقالوله. د چارشنبی په ورځ د ۱۹۹٦ جنوری ۳۱- ثابته شوه چی په مهماتو بار د بیلاروس یوه باروړونکی الوتکه څو ورځی مخکې د قزاقستان د ګمرك كاركوونكو تیولی ده دفرانس دایکسپورت په نوم شرکت L 76 وړله باروړونکی الوتکه چی دقزاقستان له واکمنو څخه (٤مخ)

د ګردیز په بیار کښنی (۲۰۰۰) کیلو ګرامه (هیروئین) ونیول شول

د پکتیا له ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د روان هجري لمریز کال د سلواغی د میاشتی په (۸) مه نیټه د پکتیا ولایت د امنیت د مسؤولینو لخوا د ګردیز په بیار کښنی (۲۰۰۰) کیلو ګرامه (هیروئین) چی پاکستان ته لیږدول کیدل ونیول شول. خبر ځای ورواندی لیکی د نشئی موادو دوه تنه لیږدونکی له یوه عراده موټر سره ګرفتار او د تحقیق لپاره قوماندانی ته بوتلل شول.

د خوست ولایت د جمعیت العلماء صدر مولوی صاحب سیدحسن د اجل پریښتی ته لبیك وویل

انا لـــــــا

په ډیر خواشینی مو خبر واخیست چی د خوست د جمعیت العلماء صدر مولوی صاحب سیدحسن چی (۱۲۰) کاله عمریی درلود د ۱۳۷٤ هـ ش کال دجدی د میاشتی په ۲۹ مه نیټه د شنبی په ورځ د اجل پریښتی ته لبیك وویل او خپل ځان یی لوی خدای(ج) ته وسپاره (انا لـ...) (٤مخ)

درولسوالی انجیل هرات قصاص شرعی تطبیق شد

خبرنګار د (شریعت اونیزه) از ولسوالی انجیل ولایت هرات خبر میدهد که جمعه نام ولد جمعه ګل ساکن قریه، جائی ص٤

د اسلام خادم ملا محمد عمر (مجاهد) د بادغیس ولایت د علماء کرامو له دلی سره وکتل

د کندهار له ولایت نه د(شریعت اونیزی) خبر یال خبر راکوی چی د روان هجري لمریز کال د سلواغی د میاشتی په (۱٤) مه نیټه د اسلام خادم ملامحمد عمر(مجاهد) د امارت په مقر کښی د بادغیس ولایت د علماء کرامو (٤مخ)

عالم ربانی شیخ الحدیث مولوی وقایت الله «دمساز» به لقاء الله پیوست

(انا لـ...)

خبر نګار ما از شهر پشاور خبر میدهد که: جناب شیخ الحدیث مولوی وقایت الله (دمساز) در اثر مریضیکه عاید حالشان ګردیده بود و مدت در شفاخانه، جرنیلی پشاور تحت تداوی بودند بعد از فارغ شدن از شفاخانه در منزل شان واقع شمشتو (فامیلهای مولوی صاحب خالص) روز سه شنبه به لقاء الله پیوستند. (انا لله و انا...) جناب مولوی دمساز صاحب، که مربوط ولایت ننګرهار باشنده، (ص٤)

د شوری د سرپرست الحاج ملامحمد حسن اخند تر ریاست لاندی

داسلامی تحریك دعالی شوری غونډه جوړه شوه

د کندهار له ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی: د ۱۳۷٤ هـ ش کال دسلواغی د میاشتی په ۱۲ مه نیټه د طالبانو د اسلامی تحریك د عالی شوری غونډه د شوری د سرپرست او د کندهار د والی الحاج ملا محمد حسن اخند تر ریاست لاندی جوړه شوه. خبرورواندی لیکی غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت (٤مخ)

دجهاد د پیاوری قوماندان ملا بورجان اخند پیغام

ملا امین الله چی په ملا بورجان آخند مشهور او د جهاد یو پیاوړی قوماندان دی خپلی نیکی هیلی او پیغام یی د اسلامی تحریك محترم، مشرانو او ټولو هیواد والوته ورواندی کړ او ویی ویل: د اسلامی تحریك دمجاهدینو مورال دلوی او مهربان خدای(ج) په فضل ډیر پیاوړی دی، د دوی دښمنان نشی کولای چی (٤مخ)

دچرخ په ولسوالی کښی د طالبانو د اسلامی تحریك دملاتړ په لړکی درنده غونډه جوړه شوه

له لوګر ولایت نه د(شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د سلواغی د میاشتی په (٦) مه نیټه د چرخ ولسوالی د شریفو او مجاهدو خلکو لخوا د شاه صاحب په جامع جومات کښی د طالبانو له اسلامی تحریك دیشپړی همکاری په لړ کښی یوه لویه غونډه جوړه شوی وه. خبریال ورواندی لیکی غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په (٤مخ)

سرمقاله

دکابل په مظلومو خلکو د توپونو، مرمیو او توغندیو باران

له هغی ورځی نه چی په کابل باندی د کمونیستانو سلطه ختمه شوي ده کابل د خپل منځي تربګنیو ډګر دی اتګل دی چی له نیمایی نه زیاتی ودانی به یی نړولی شوي وی او دوه په دریو برخو استوګن به یی وژل شوی، معلول او مهاجر شوی وی.

دغه مصیبت د کمونیستانو داقتدار په وخت کی د افغانستان په کلیو کی نازل شوی ؤ چی تقریباً له یوه مخه کنډوالی شول؛ په هغه وخت کی کابل او ځنی نور ښارونه ارام او ودان وو، د استوګنو غټه برخه یی کمونیستان او دهغوی انډیوالان ؤو په کوه سره به یی چرچی کولی.

مګر نیك خلك هم هغه وخت او هم اوس په مصیبتونو او کړاوونو اخته دی، بیا ترټولو لوی او دردونکی مصیبت او ستونځه د توپونو ږندی مرمی او بې شعوره توغندی دی چی ځای او بی ځایه نه ګوری او رالویږی، په لس ګونو او شل ګونو خلك وژنی، ټپی کوی او کورونه کنډوالی کوی، نو ځکه نه یوازی د کابل دخلکو بلکی د ټول افغانستان او نړی د خلکو زړونه له دغه بد عمل څخه دردمند له کرکی او نفرت څخه ډك دی.

د کابل اداره چی ددغو او دغسی نورو ستونځو او ناورین اصلی مسؤله ده- او یو وخت به دغه ټول پور پری او حساب به یی ورکړی- هیڅ داسی فکر نه کوی چی دغه ناخوالی او کړ اوونه په دغو مظلومو او خواراتو خلکو تیریږی دا واړه ددوی د شړیدلی او وراسته تش په نامه اقتدار د ناروا دوام له امله دی، دا به نور بس کړو، په ځان او خپلو خلکو په لړ زړه سوی وکړو، لا نور هم په خپل لاس د کابل د جنوب او غرب له پلوه د جنګ له لومړی یا دوهمی لیکی نه د کابل په بی وزله او رنځیدلو، وږیو، تږیو خلکو باندی د توپونو مرمی او توغندی ورشړی، پړه او ملامتیا یی دطالبانو په اسلامی تحریك وراړوی، دا ټول مرګ، ژوبله او ویرانی (ص۲)

مظاهره، بزرګی شهریان کابل علیه اداره، ربانی

سه تن از مظاهره چیان معترض از طرف ملیشه های اداره، کابل به شهادت رسیدند

منابع باوری داخلی و خارجی از شهر کابل خبر میدهد که: شهریان کابل مظاهره، بزرګی را علیه اداره، کابل به راه انداخته و از بلند رفتن و کمبود شدید مواد ارتزاقی و سوختی اعتراض و شکایت داشتند. سه تن از شهریان کابل وقتی به شهادت رسیدند (ص٤)

اداره، کابل به جنایت خود علیه شهریان کابل اعتراف کرد

روزنامه، وحدت چاپ پشاور بروز پنجشنبه ۲ فروری ۱۹۹٦م خبر عبور قافله، مواد خوراکی را از میدان شهر به شهر کابل به نشر سپرده که در آن آمده است: عبور قافله، مواد ارتزاقی وقتی امکان پذیر شد که اداره، کابل بارها اعلان کرد که: راه میدان شهر و کابل از ماین های فرش شده پاکستانی و ماین ها خنثی ګردیده است. (ص٤)

خادم اسلام ملا محمد عمر اخند با قوماندان برجسته، تحریك اسلامی طالبان ملاقات کردند

خبرنګارما ازقندهار خبر میدهد که: ٥ شنبه ۱۲ برج جاری، قوماندان برجسته، تحریك اسلامی طالبان افغانستان و ولسوال شین دند ملا سراج الدین آخند با خادم السلام و امیر تحریك اسلامی طالبان محترم ملامحمد عمر آخند در دفتر کارشان ملاقات کرد(ص٤)

دفتر ترافیك ولسوالی بولدك فعال ګردید

خبرنګار ما ازولسوالی متذکره خبرمیدهد که: دفتر ترافیك ولسوالی بولدك (ص٤)

ملا محمد حسن آخند سرپرست شورای عالی تحریك از فابریکه نساجی قندهار بازدید بعمل آورد

خبرنګارما از قندهار خبر میدهد که: الحاج ملامحمد حسن آخند سرپرست شوری عالی تحریك اسلامی طالبان و والی قندهار در حالیکه محترم مولوی بازمحمد رئیس اکمالات تحریك با اوشان همراه بودند، از فابریکه نساجی قندهار بازدید به عمل آورد(ص٤)

یك اندازه مهمات وسلاح در ولسوالی چك بدست آمد

خبرنګار ما از ولسوالی چك ولایت وردك میدان خبر میدهد که: (ص٤)

محترم مولوی احسان الله «احسان» با والی وردك میدان ملاقات کردند

خبرنګار ما از قندهار خبر میدهد که: روز جمعه ۱۱ دلو برج جاری محترم ملانورالله اخند والی ولایت وردك میدان و قوماندان برجسته، تحریك اسلامی طالبان در خطوط مقدم جبهه علیه اداره، کابل با محترم مولوی احسان الله احسان (ص٤)

د ورکوډ جلریز ولسوال شیخ عبدالناصر داسلامی تحریك د محترم مشر حضور ته ورغی

د باختر له مخی محترم شیخ عبدالناصر د اسلام ستر خادم محترم ملامحمد عمر آخند ته دملاقات په وخت دوردګو ولایت په تیره د جلریزو دولسوالی په اړه پوره معلومات او دهغه ځای د امنیتی وضعی څخه داد ورکړ، خبر ځای زیاتوی چی محترم مشر د دوی د سه کار کولو څخه مننه وکړه او دنورو اجرااتو په اړه ئی لازمی لارښوونی ورته وکړی.

دلوګر والی محترم مولوی محمد کبیر د ولایت د ریاستونو او مربوطو ادارو څخه لیدنه وکړه

د (شریعت اونیزی) خبریال د لوګر ولایت مرکز پل عالم څخه خبر راکوی چه تیره ورځ د لوګر والی محترم مولوی صاحب محمد کبیر د لومړی ولایت د ټولو دولتی ادارو څخه لیدنه وکړه او دهغوی د کارونو نه یی پوره اطمینان څرګند کړ او له هغوی څخه یی دنوری ښی کارکردګی غوښتنه وکړه. ده مسؤلینوته په ویناکی وویل چی: د اسلامی اصولو د تطبیق په لاره کی د هیڅ چا څخه خوف او ویره مه لری. (٤مخ)

د مسلمانی عقیده

دویم مخ

اسلام او دیموکراسی

۲ مخ

ملی ګرایی در خدمت صلیبیها

دویم مخ

طالبان، دجهاد اتلان، دفساد دښمنان

(دویم مخ)

دافغانستان دجمهوری ریاست له چوکی سره مرکه

خبر

(دریم مخ)

څه وو او څه وشول!؟

دریم مخ

راه حل بحران درکشور

ص ۳

آن مسلمانان که میری کرده اند در شهنشاهی نقیری کرده اند

خاطره — ص ۳

زمونږ په نظر تفاهم او خبری د معضلو د حل لار ده، که چیری ستونزی په خبرو حل نه شی نو جګړه یی روستی طریقه ده

د اسلام د خادم ملامحمد عمرمجاهد له وینا و څخه

شریعت

دامتیاز خاوند: د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریک
دتاسیس کال: ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر: الحاج مولوی احمدجان
ټیلفون: ٤۲٦٤٥
آدرس: په پیښورکښی دطالبانودا‌سلامی تحریک نمایندګی
دیوی ګڼی بیه: په هیواد کښی (۲۰۰) افغانی
په پاکستان کښی (۲) کلداری

سرمقاله ...

... ګټی خو چی د دوی یو وړوکی مطلب ترسره شي، هغه دا چی که وکولای شی د ... د اسلامی تحریک په هکله د خلکو اخلاص اوښه نیت کمزوری کړی او ذهنیتونه ګډوډ کړی.

دا دوی له پاره چی د طالبانو اسلامی تحریک له کله نه چی راپورته شوي دی دخپل مسلمان مظلوم او کړېدلی ولس په ننګه راپورته شوی دی، په هغو ولاړ دی، په هغوی پی زړه خوږېږی، د هغوی سره مال او ناموس یې دخپلو ویښو په بیه ساتلی او د هغوی له سر نه یې اور مړ کړی دی، نو ځکه یې د خپلو خلکو په زړونو کی یې ساری ګرانښت او محبوبیت مینډلای دی.

اوس نو د کابل مړ ژواندہ اداره ددغه تحریک د بد رنګه کولو لپاره نورهیڅ په خوله او لاس کی نه لري له دی پرته چی د خپل کړېدلی ولس د مرګ او ژوبلی په بیه دغه تحریک ته- خدای مکړه- یو څه بد رنګی ورواړوی او ددوی د کړکی او نفرت وړ اداره یو څه نورهم - خدایه مکړه!- پاښت وکړی. مګر اوس د افغانستان خلک په دغو فریبونو باندی ښه پوهېدلی دی. د طالبانو اسلامی تحریک چی علماء او د علم طالبان دی او تر هر چا نه له الله تعالی څخه ډېر وېرېږی له الله تعالی نه وار وار له داسی عمل څخه پناه غواړی چی هغه یې د خپلو مسلمانانو وروڼو او خویندو په مرګ ، ژوبله او ستونځه تمام شي، دا سی کار به څرنګه وکړی؟ دوی د خپلو مسلمانانو د سر، مال او ناموس د حفاظت لپاره لګیا دی د خپلو سرونو قربانی ورکوی.

لکه چی په وار وار د طالبانو د اسلامی تحریک مشرانو دا خبره سپینه کړی ده د طالبانو توپونه او ټوغندی د تل لپاره یوازی نظامی هدفونو ته مخامخ وی او بس، دغه بد عمل چی دګټی ګوتی په ګاډیو، په جوماتونو او د استوګنی په کورونو باندی بی دریغه مرمی ورشیږی د هغه چا کار دی چی نه له الله تعالی څخه ویره لري او نه په چا رحم کوی.

د مسلمانی عقیدی

شپږمه برخه

قلزي خیل

والیوم الآخر:

دغه توری هم د (بالله) تر پاء لاندی دی ترکیب یې داسی راځی: (امنت بالیوم الاخر) ایمان می راوړی (باور می کړی) دی په وروستی ورځ باندی، داسی باور چی کله د دنیا ټاکل شوی نېټه پوره شی نو هغه به د قیامت ورځ راځی، الله تعالی به په هغه ورځ له بندګانو سره د هرڅه حساب کوی. له حساب نه وروسته به جنتیان به پل صراط باندی جنت ته ورتېرېږی او دوزخیان به په دوزخ کی لوېږی، -اللهم اجرنا من النار-

یادونه: له قیامت نه مخکی چی بندګان مړه کېږی د مرګ له وخت نه ترقیامته پوری زما نه د عالم برزخ زمانه بلل شی، که مړی په قبرونو کی ښخ وی، که په اوبو کښی ماهیانو خوړلی وی که د ځنګلونو ځناورانو خوړلی وی او که په اور سوځېدلی ایری شوي وی دا ټول به د نکیر او منکر ملائکو پوښتنی ته ځواب وایی) که ښه ځواب ئ او که بی خوندہ ځواب ئ د قبر ټینګول (ضغطه) به هم تېروی، د نیکانو لپاره به لکه د مور غېږ داسی خوند وره وی، د بدانو به پوښتنی یو له بله سره تېری کړی، له دی نه وروسته به نیکانو ته دغه ځای د جنت له باغچو نه یوه باغچه کېږی، په عیش او مزو کی به تر قیامته وخت تېروی او بدانو ته به د دوزخ یوه کنده جوړېږی او په عذابونو کی به تر قیامته وخت تېروی، -اللهم اجرنا من عذاب القبر-

کالبوت (بدن) که هر څېرته وی -له پیغمبرانو علیهم الصلوة والسلام او ځنی خاصو بندګانو پرته- زړی، زړی به کېږی مګر د الله تعالی له علم او قدرت نه نشی وتلی د هغه په علم کی او د هغه قدرت ته به لکه یو غونډ شی داسی وی دغه زړی به ټولی له خپلی روح سره ډېر نږدی ارتباط (اړیکی) لری نو ځکه روح او د کالبوت زړی په یو رنګ حالت کی وی، او د بیا ژوندی کولو په وخت کی به دغه زړی د الله تعالی په حکم ټولی راغونډېږی او روح به پکی ننباسی،

تر قیامته پوری به دغه حال وی چی کله قیامت نږدی شي نو هغه وړی او لویی نښی (علامی) چی حدیثونو مبارکو کښی راغلی دی ټولی به په دنیا کی ښکارېږی،

۱- یوه له لویو نښو څخه د دجال ښکاره کېدل دی، د دجال خبری په حدیثونو مبارکو کښی ډېری راغلی دی. دجال به یهودي سړی وي، په سترګه به ړوند وی، الله تعالی به یې د خلکو دازمېښت لپاره په ټوله زمکه مسلط کړی، دی به ډېر لوی جادوګر دی، د خدایی دعوی به وکړی، خلک به دخپل ځان بندګی ته رابولی (دعوت کوی)، په جادو سره به ډېر لوی کارونه ښکاره کوی، غلوېښت ورځی به په مخلوق باندی مسلط وی مګر هغه ورځی به ډېری اوږدی ورځی وی، بیا چی کله حضرت عیسی علیه الصلاة والسلام له آسمانونو څخه را کوز شي دجال به ووژنی او خلک به یې له شر نه خلاص کړی،

دجال ډېره لویه فتنه او د خلکو لپاره د الله تعالی ازمېښت دی، ټولو پیغمبرانو- علیهم الصلاة والسلام- خپل امتونه د دجال له شر نه وېرولی دی، په تېره رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په ډېر تاکید سره خپل امت ته وصیت کړی دی چی هر وخت له الله تعالی څخه د دجال له فتنی نه د ژغورنی سوال وکړی،

۲- د قیامت بله لویه نښه دابة الارض دی. حدیثونه او اثار راغلی دی چی دابة الارض (د زمکی ژوی) به له زلزلی نه وروسته د کعبی مبارکی له شاو خوا څخه پیدا کېږی، شپېته ګزه به اوږده وی، پښی به هم لری، وزرونه به هم لری، نه به څوک ورته په منډه خلاصېدلای شی او نه به څوک پسی رسېدلای شی، خبری به هم کوی مؤمن ته به مؤمن او کافر ته به کافر وایی.

۳- بله لویه نښه د یاجوج او ماجوج ښکاره کېدل دی، په کتابونو کی راغلی دی چی : یاجوج او ماجوج د انسانانو دوه قامونه د حضرت نوح علیه السلام د زوی یافث له اولادی نه دی، د زمکی په شمال شرقی برخه کی اوسېدل، ډېری غټی غټی تنی بی دی او د ځناورو خوی او عادت یی ؤ، د نږدی علاقو خلک یې سخت تنګ کړی ؤو بیا سکندر ذوالقرنین رحمه الله علیه ددوی مخی ته د تېږو او وسپنو دېوال جوړ او دوی یې ایسار کړل، چی کله قیامت نږدی شی دوی به دغه دېوال سوری کړای شی او راوبه وزی، خلک به ورڅخه تنګ او غرونو ته به پناه یوسی، بیا به الله تعالی یاجوج او ماجوج هلاک کړی، دغه وخت به حضرت عیسی علیه الصلاة والسلام راکوز شوی وی.

٤- د قیامت بله لویه نښه د حضرت عیسی علیه الصلاة والسلام راکوزېدل دی، دا صحیح حدیث دی چی حضرت عیسی علیه الصلاة والسلام به له اسمان څخه راکوز شی دجال به ووژنی، د نصرانیانو سمبول (صلیب) به مات کړی له هیڅ کافر نه به جزیه نه قبلوی، ایمان راوړل به ورڅخه غواړی، هغه وخت به د زمکی په مخ یوازی اسلام حاکم شی او بس، دی به څلوېښت کاله ژوندی وی بیا به وفات او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه روضه کی ښخ کړای شی، دی به د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو امتی وی.

۵- بله لویه نښه له لمر لویده خواته د لمر راختل دی، په حدیثونو مبارکو کښی راغلی دی چی دغه پېښه به د دابة الارض له راوتلو نه لږ مخکی، یا لږ وروسته وی، مګر له شپېلی نه به مخکی وی، له دی نه وروسته به نه د کافر او نه د فاسق توبه قبوله شی،

وایی چی هغه شپه به ډېره اوږده وی د تهجد والا مسلمانان به ویرهېږی چی دا دومره اوږدوالی له حکمت نه خالی نه دی نو خپلی بندګی او توبی ته به لاړور پسی ورکړی، بیا به لمر د لمر پرېواته له خواته راوخېژی او زړه به یې نه وی، تر نیمایی اسمانه پوری به راشی او ډېرخلک به له وېری نه مړه شی بیا به بیرته د لمر لوېده خواته ولوېږی، بیا به حالت بېرته په خپل طور سره شی.

د قیامت نوری نښی لکه په وچه زمکه د خلکو ډوبېدل (خسف)، لکه لویه زلزله، لکه لوګی، لکه اور چی د یمن له لوری نه به راوبوږکېږی او داسی نوری، چی پوره شی نو بیا به د قیامت شپېلی اواز کوی او ټوله نړی به ورانېږی، ټول ژوی (حیوانات) به مړه کېږی، بیا به په بله شپېلی راژوندی کېږی.

د سیکولیریزم خطر ته پام کوئ!

اسلام او دیموکراسی

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

وروستی برخه

پنځم: مطلق آزادی: (Liberalism)

مطلق آزادی د دیموکراسی لازمی نتیجه ده، په دیموکراسی کی دینی او مذهبی اخلاقو او عقایدو ته څوك په اهمیت باندی قائل نه دی، دین د هرچا انفرادی او شخصی عمل بلل کېږی چی بل څوك دی هغه باندی مامور نشي ګرزولی. هرڅوك په خپل عمل کی آزاد دی بل څوك په دوی باندی تنقید او اعتراض نه شي کولی، په دی توګه د دیموکراسی منطقی نتیجه لیبرالیزم، جنسی بی لاری توب، د کورنی او ټولنی اخلاقی انحطات او تباهی دی.

په دیموکراتیکه ټولنه کی مور او پلار په خپل اولاد باندی اخلاقی تسلط نه لری، هلك او جنی چی لوی شي د خپل واك خاوندان دی، هرڅه چی کوی، له هرچا سره که اړیکی ساتی او یامینتوب کوی، مور او پلار وربانذی اعتراض او تنقید نشی کولای، نر او ښځه که په خپله خوښه د جنسی عمل اجرا کوی، هغه قانونی جرم یا بد عمل نه تصورکېږی، څوك وربانذی تنقید یا نیوګه نه شي کولای. دا ځکه چی دیموکراسی دا ډول نیوکی او اعتراضونه د جمهوری او بشري حقونو په خلاف بولی.

مخلوط اداری سیستم چی ښځی او نر به ګډ کار په کی کوی او ګډ تعلیمی نظام چی هلك او جنی به په صنفونو کی ګډه زده کړه کوی، په دیموکراسی کی د خلکو دیموکراتیك قانونی حق دی چی څوك یې مخالفت نه شي کولای. تر دی پوری چی که کومه ښځه وغواړی ځان په پرده کی کړی او اسلامی اخلاق رعایت کوی تهدید کېږی. که څوك په دا ډول نظام او سیستم باندي اعتراض او تنقید کوی هغه ته تنګ نظره، افراطی ، پښت پالی او بنیاد پرست وایی.

اسلام له لیبرالیزم سره په بشپړه توګه مخالف دی او مسلمانانو ته اجازه نه ورکوی چی اسلامي اخلاق له لاسه ورکړی. مور او پلار په خپل اولاد، مېړه په خپله ښځه، او اسلامی دولت د ټولنی په ټولو وګړو باندی حاکمیت او مسؤولیت لری، چی اخلاق یې اصلاح او له هر ډول بی لاری توب څخه منع کړی. د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایی: «هر یو د تاسی ساتونکی دی، او هر یو د تاسی له خپل رعیت (لاس لاندی کسانو) څخه مسؤولیت لری. د کور مشر د کورنی، د کلی مشره کلیوالو، د ښوونځی مشر دی شاګردانو او د دولت مسؤولین د هیواد د ټولنی په اصلاح او اخلاقی روزنه باندی مسؤولیت لری چی ، خپلو لاس لاندی افرادو په روزنه او اخلاقی اصلاح کی کوښښ وکړی. او دهر ډول عقیدوی، اخلاقی، تعلیمی او ټولنیزو انحرافاتو څخه بی ساتنه وکړی. الله تعالی فرمایی: «زانی او زانیه هر یو سل سل دوری ووهی. (النور). »

په داسی حال کی چی په دیموکراتیکو هیوادونو کی نه یوازی دا چی د ټولنی په اخلاقی اصلاح کی اقدام نه کوی بلکې برعکس هغوی د اخلاقی بی لاری توب د پاره هڅوی او بد اخلاقه ټولنه یوه مترقی ټولنه بولي، په لویدیزو هیوادونو کی چرته چی ددیموکراسی اصلی اتلان ژوند کوی، په ښونځیو او پوهنتونونو کی هلکان د جنی د بی لاری توب د پاره په منظمه توګه رهبری کېږی او په دی هکله ځانګړی درسونه ورکوی. خو هغوی له یوی خوا یو بل سره جنسی غریزه اشباع کوی او له بلی خوا یې له حمل څخه منع کوی چی د نفوسو د ډېروالی مخنیوی وکړی.

لهذا اسلام د لیبرالیزم مخالف دی او دیموکراسی هغه دخلکو بشري حقونه بولی، او که کوم اسلامی هیواد د دیموکراسی د پورتنیو اساساتو څخه سرغړونه کوی، او د اسلامي نظام تطبیق کوی، نو غربی نړی د هغه په خلاف د ډول ډول بندیزونو تهدید کوی، او په اسلامی هیوادونو کی د سیکولر عناصرو په لاس د یوه نوی حکومت د جوړولو بی شرمانه مداخلت کوی، چی له هری لاری ممکن وی سیکولرستان د قدرت په ګدی باندی کښېنوی.

****

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

(قسمت پنجم)

عبدالرحمن احمد هوتکی

و همچنان ضروری مینماید گفته شود که: در کنار تأسیس و توسعه دانشگاها و مراکز فرهنگی و تعلیمی که بر مبنای نظریات واساسات مادی غرب روی کار شده بود، هم زمان و موازی به آن نوشته ها و کتابهاي روی صحنه آمد که: منحل گردیدن و ذوب شدن را در تمدن غرب توصیه و تلقین میکرد، چنانچه طه حسین درکتاب خود (آینده، فرهنګ مصر) میگوید: «وظیفه، ما است تا بر راهی برویم که اروپا رفته است وباید نقش پای اوشانرا دنبال نمایم تا مثل آنها شده و در تمدن شریك اوشان گردیم) هم صدایی و هم نوائی با طه حسین تا این قسمت از گفته اش حرج نداشته بلکه خوبیها و حسنات فردی و اجتماعی را مادی و معنوی را از هر طرف و هرکس که باشد باید حاصل کرد و از آن استفاده نمود. طوریکه گفته مشهور است که میگوید: (بگیر آنچه خوب است و ترك کن آنچه بد است) اما به هیچ شکل و رنګ، عنوان و بهانه بااین قسمت از گفته طه حسین موافقه ،مسلمانان حاصل شده نمیتواند که میگوید: «در خیرو شر در تلخی و شیرینی ، در آنچه دوست دارند و در آنچه بد میپندارند و درآنچه مورد پسند شان میباشد و یا از آن عیب جویی دارند. » بسیاري از روشهای اخلاق فردی و اجتماعی میباشد که نزد غربیها ، جائز و حسنات حیات فردی و اجتماعی پنداشته شده و عیناً همان روشها و عادات نزد اسلام ومسلمین ناجائز و رذایل اخلاق پنداشته میشوند، بسیاری از روشهای فرهنگی و کلتوری میباشد که در تمدن غربي ضروری و روح روان تمدن غربی پنداشته میشود اما در اسلام و درجامعه اسلامی حرام و ضد فرهنگ و ثقافت دینی پنداشته میشود، زیادی از روشهای مالي و اقتصادی در تمدن غربی میباشد که درنظام اقتصادی غرب جائز بلکه اساس نظام اقتصادی غرب پنداشته شده اما در نزد مسلمان و در شریعت اسلامی، سود و ربا پنداشته میشود و ابداً اسلام به آن روی خوش نشان داده نمیتواند و... از این طریق و به این روش غرب صلیبی خواست اعتماد به نفس را از مسلمانها سلب نموده آنچه از افتخارات، دینی، علمی، اجتماعی و تاریخی دارند آنرا در نزد شان ناچیز، کم اهمیت، بی ارزش، ناکافی و حتي فاقد ارزش جلوه دهد. بدترین وضعیت و حالتی که جوامع به آن دچار میگردد وقتی است که از لحاظ روانی و کیفیات نفساني شکست میخورند و از درون مصاب به فشاري میگردند. بدترین ضربه و تیریکه به سینه، ملتها میخورد وقتی است که اعتماد بنفس و خود شناسی را از دست میدهند، ملتها وقتی زنده و پایدار میمانند و پیروز میگردند که در مبادي و عقاید خود ها حل و ذوب شوند و ترقی وقوت خویش را از راه مذهب و آئین شان بطلبند، ملت وقومیکه به محور عقیده صحیح و سالمی گرد آمده اند و بر آن زنده گی دارند و در راهش مبارزه و جهاد مینمایند چنین قومی و ملتي زنده، جاوید و سرافراز است گرچه دشمن زیاد نیرومند بوده باشد پلانهاي شان نیرومند و قوی و از استراري خاصی برخوردار باشد لذا شکست و ضعف در ابتداء از نفس و روان و ناتواني دروني شروع شده و انسان با همین روح شکست خورده وارد معرکه شده از بین میرود ، خلل و نقصان از نهاد نفس و اعماق روح انسان آغاز میگردد و نتائج ویرانگر خود را در صحنه حیاتی میگذارد و بر طرز رفتار، اخلاق و برخورد اثر نامطلوب دارد. لذا غرب صلیبی بلکه همه، استعمار ها متوجه این نکته بوده و مهم استعماری خود را در ابتداء و آغاز از همین مرحله و نقطه آغاز مینمایند. در این دور و مرحله غرض این مهم و هدف مدارس و مکاتیب فکری و نظریاتی زیادی روی کار گردید که قطع رابطه با اسلام را برای همیش و ذوب شدن را در تمدن غربي توصیه و تبلیغ میکرد. و این حرکت و مهم تحت برنامه ها و شعار هاي: انکشاف و تکامل، آزادی، دعوت و تبلیغ بسوی دین جهانی که از طرف ماسونیزم یهود بمیان آمد، دنبال کردند. تفاهم و تقارب میان ادیان. و اسلام را به دو نوع (کلاسیك و معاصر) تقسیم کردن چنانچه این نظریه از طرف فضل رحمان هندی و سرسیداحمدخان تحت عنوان (نشر اسلام معاصر) دنبال گردید، و شعار (اصلاح و ترمیم دینی) که این مرحله از طرف حلقه های به خصوصي یهودی و صلیبی و حکام حلقه بگوش آنها به میان آمد و با بربریت و وحشت بیحد و حصری همراه بود و میتوان این حرکت و مرحله از جای گزین کردن فرهنګ الحادی غرب صلیبی را به جای فرهنګ اسلامی خونین ترین حرکت تلقی داشت که از طرف حکام ملی گراء عملی شد و سبب گردید که حاکمیت اسلام و شریعت از برنامه های دولتی، سیاسی واجتماعي بعضی از کشور های اسلامی لغو گردد و این اصطلاح (اصلاح و ترمیم دینی، و بنام محو و نابودی اسلام توسط اتاترك در ترکیه نام گزاری شده است) اتاترك تحت این نام و عنوان به کشتار هزارها تن از علماء دینی، روحانیون و دانشمندان اسلام اقدام کرد حاکمیت شریعت و تعلیمایت اسلامی را از همه مراکز تعلیمی و ادارات دولتی ملغی اعلان داشت و فرهنګ فاسد غرب را بزور برچه بر ملت مسلمان ترك تحمیل کرد. و همچنان تحت همین نام و عنوان، اقدامات و حرکات علیه دین و حاکمیت شریعت در ایران، افغانستان و... بمیان آمد اما خوش بختانه همچون ترکیه زیاد موفقیت آمیز نبود و منجر به شکست و رسوائی گردید.

مرحله، سوم از تغییر و تحول (تفریق و تمزیق امت اسلامی) ادوات و اسباب این دور عبارت میباشد از:

ملی گرایی- تبلیغات جهانی مانند کمونیزم- دعوت زیر عنوان انسان دوستی چون ماسونیست یهودی و نماینده گي های آن، و روی کار کردن فرقه های کافر منسوب به اسلام مانند: قادیانیت، بابیت، بهایت، دروز و ... طوریکه گفته شد کفارصلیبی در میدان جنګ و قتال با تمام وحشت و بربریت که دنبال داشتند پیروزی بدست نیاوردند خجل و شرمسار بازگشتند، و در فکر تغییر شیوه هاي جنګ و مقابله با مسلمانها و اسلام شدند و این بار به جای جنګ برچه و نیزه به جنګ عقیده و نظریه علیه ملسمین اقدام داشتند که این جنګ خطرناك درهمین مرحله دنبال گردید که پیروزیهای بی نظیر برای اوشان به ارمغان آورد، و ملتی را که در تمام میدانهای کارزار نظامی و شمشیر پیروز و فاتح بود بشکست فضیح و عجیب مواجه شدند و تمامی سیادتها، علمی، سیاسی، اقتصادی و اخلاقی را از آنها ربودند این ملت که دیروز فاتح و استاد بود امروز آنرا مغلوب، ناتوان، و غلام در تمام ساحات زنده گی مشاهد مینمائیم (ملت مسلمان) خطرناکترین وسیله و ضربه، که کفار صلیبی به پشت و پناهی یهود و ماسونیزم جهان در این مرحله از تغییر و تحول علیه اسلام و ملتهای اسلامی بکار گرفت ملی گرائی بود و توسط این گرائیش از وحدت و هم آهنګ مسلمین، عرب و عجم علیه خود جلوگیری کرده بلکه قدرت واحد سیاسی و دولتی مسلمین را که در آنوقت سمبول وحدت و قدرت اوشان نګاشته میشد از بین بردند به جای احساسات و جزبه، دینی و اخوت اسلامی احساسات و عواطف، قومی، نژادی، زبانی و اقلیمی را میان مسلمین دامن زدند احساسات ضد استعماري ملت اسلامي را به بی راها کشیدند از این طریق، عمال و تربیه شده گان دستگاه های صلیبی را به حیث، قهرمانان ملی بر جوامع، تفریق و تمزیق شده، اسلامی تحمیل کردند برای اینکه ادعای بی مورد نکرده باشیم لازم میباشد که نظري به تاریخ و عوامل ملی گرائی در جهان اسلام انداخته ببینیم که کی ها؟ چه ها؟ کردند و بدبختی و سیه روزی آفریدند.

طالبان، دجهاد اتلان، د فساد دښمنان

شاجهان سرداری

دغه ناوړه تبلیغاتو په لړی کی چه دځینو مغرضو خواو له لوری د طالبانو په اسلامی تحریك پسی روان دی یو دادی چه ګوندی د طالبانو تحریك د جهادی ځواکونو د ځپلو لپاره رامنځته شوی او غواړی مجاهدین و ځپکوی.

که څه هم داډول بی اساسه او له واقعیته لیری پروپاګندونه زمونږ ولس ته هیڅ اعتبار نلری او یوازی د دښمنانو ناولی څېری را ښکاره کوی ولی بیاهم موثر ضروری بولو چه پدی واقعیت یو څه رڼا واچوو چه طالبان خوارلس کلن مجاهدین دی د روسی یرغلګرو دمانی ویاړ لری او نن ورځ هم د پرونی جهاد د ژغورنی، دهغی داهدافو د پلی کولو او په هیواد کی دیو اسلامی شرعی نظام د قیام لپاره د جهاد میدان ته راوتلی دی.

که د طالبانو د اسلامی تحریك ظهور چه د کله نه د یو نظامی قوت په توګه ټولنه کی مطرح شوی دی، د بیطرفانه او منصفانه څېړنی لاندی ونیسو، نو ویه مومو چه دا تحریك هغه یوازینی تحریك دی چه د ملت له هیلو سره سم په هیواد کی د اسلام اوملي ګټو دغوښتنو له کبله مجبورا په خپل اوسنی حال راښکاره شویدی.

د طالبانو د اسلامی تحریك د جهادی سابقی د ثبوت لپاره یوازی همدا بس دی چه ددی تحریك امیر دمجاهدینو یو اتل قوماندان پاتی شوی دی، دجهاد روښانه سابقه لری. جهادی تاریخ ئی د سرښندنو ډکی کیسی لری او په دی لارکی ئی خپله سترګه هم له لاسه ورکړی چه دټولو جهادی مشرانو څخه همدایو ددی ویاړ خاوند دی.

د طالبانو د اسلامی تحریك د مرکزی شوری ټول غړی د اسلام ستر علماء او د جهاد لوی لوی قوماندانان دی او هریو ئی پخپل وار د افتخار وړ جهادی داستانونه لری.

دا چه د طالبانو اسلامی ځواکونو په کمه موده کی د هیواد پراخه ساحی آزادی کړی او د ډېرو ولایتونو وګړی ئی د فساد، چور او چپاول څخه وژغورل دا پخپله ددی خبری څرګندوی دی چه طالبان مجاهدین دی په ملت کی محبوبیت لری او څرنګه چه د نورو څخه د جهادی اهدافو د تحقیق امید ختم شو، دا تحریك را اوچت شو او غواړی د جهاد اخری هدف چه په وطن کی دیو اسلامی نظام قیام دی په لاس راوړی.

طالبانو دسپېڅلی اسلامی تحریك په وړاندی دا ډول تبلیغات له مختلفو لوروڅخه کېږی داخلی ګروپاګیان چه د دی تحریك په بریالیتوب کی دخپلو ناوړو ګټو پای وینی دا ډول پروپاګندونه کوی که وکولای شی خپل فسادته څو ورځی نورهم عمر ورکړی.

بهرنی ښکېلاك ګران چه ددی تحریك په را منځته کېدونی ټولی ټوطیی خنثی او نابودی شوی دی غواړی پداسی تبلیغاتو سره د ولس عامه ذهنونه ددی تحریك په هکله بلی خواته واړوی. داهم کېدای شی چه ځینی مسلمانان چه په حقیقت کی ددی تحریك څخه پوره خبر ندی هغوی هم دا ډول خبری وکړی.

مونږ د خپلو مشرانو څرګندونو په رڼا کی یو ځل بیا پدی خبری ټینګار کوو چه زمونږ پاڅون د جهاد داهدافو د پلی کولو او په هیواد کی د فساد د ختمولو لپاره دی ځکه دا زمونږ د ایمان غوښتنه ده دا چی د طالبانو اسلامی پاڅون د مفسدانو په ضد دی نو که هر څوك دغه قیام د مجاهد ضد توجیه کړی پکار داده چه هغه خپله عقیده له سره سمه کړی ځکه فساد، قتل، قطاع الطریق کمونیست او ... نه د مجاهد نوم ورکول لویه ګناه او عقیدوی زیان دی. که د بی بی سی او امریکا غږ راډیوګانی د طالبانو اسلامی تحریك د مجاهدینو په ضد قیام وبولی نو دایو سر لری ځکه هغوی مجاهد غل او فاجر بولی، جهاد ترور او وار بولی، مګر هغه څوك چه ځانونه مسلمانان ښیی او داسی څرګندونی کوی د هغوی حساب بېل دی، په هر صورت زمونږ دولس سره نن ورځ معیار عملی تطبیق دی اودغه تحریك په عمل کی راوښودل چه دوي په افغانستان کی د اسلامی جهاد د ارمانونو ترسره کول غواړی.

که څوك دغه پاڅون هر ډول توجیه کړی دا دهغه خپل نظر دی خو باید ټول په یاد ولری چه د خدای سنت هرګز هم د چا په غوښتنو پوری تړلی ندی مګر هغه د لوی خدای په ارادی پوری تړلی او لوی خدای د حق د بریالیتوب وعده کړیده.

د طالبانو اسلامی تحریك د دی شرعی قاعدی په رڼا کی چه «مالایتم الواجب الابه فهو واجب» جهاد پیل کړی ځکه څرنګه چه د جهاد د اهدافو پلی کول فرض دی او هغه د جهاد له پرته ممکن ندی نو دا ضروری ده چه د تطبیقیدو لپاره ئی وسلواله مبارزه پیل شی.

دغه تحریك د لوی خدای (ج) په توفیق د خپل مجاهد او رنځېدلی ولس سره یوځل بیا دا وعده کوی چه دجهاد اصالت به ساتی او په وطن کی به اسلامی شرعی نظام پلی کړی او همدا مجاهدین به وی چه د هیواد درانلونکی سرنوشت د ټاکلو دنده به په غاړه لری او د شر او فساد عاملین به دخپلو ناوړه اعمالو نتائج وینی.

انشاء الله

راه حل بحران در کشور

سید محمد عبدالله «فاطمی»

یکی از علل اساسی ادامه، تراژیدی و بحران کنونی در کشور عدم موجودیت اداره، سالم درمرکز و ولایاتی که تحت تسلط تنظیم ها است می باشد.

هرگاه ملت ما دارای یك اداره، سالم و مقتدر مرکزی مي بود، امروز با این مصیبت ها و دشواری ها مواجه نمی شدیم ما هرگز به دستگاه حاکم کنونی در کابل اداره، که دارای مجوز و حیثیت شرعی و قانونی باشد گفته نمی توانیم، بلکه در آنجا یك دستگاه موجود میباشد که در ترکیب داخلی این دستگاه کمونیستها و جنرالان کمونیست حکومت سابق (دست نشانده، روسها) و شعله یی ها، ستمي ها و خائنان ملی و دزدان روز روشن و افرادی بی کفایت که فاقد صلاحیت اداره یك علاقه داری میباشند، موجود هستند و بسطح خارجی از حیثیت و وقار لازم برخوردار نبوده بلکه از طرف خارجیها به خصوص، روس شکست خورده، هند مشرك، فرانسه و ایران توجیه و تمویل میگردد.و این اداره مبتذل را که فاقد هرنوع صلاحیت و قانونیت میباشد، بنام دولت اسلامی مسمی میکنند که درحقیقت این عمل ایشان جفای بزرگ بنام اسلام و دولت اسلامی میباشد. زیرا یکی از شروط اساسی دولت اسلامی و حکومت اسلامي تأمین امنیت برای مردم و فراهم ساختن آبرومندانه زندگی برای فرد فرد جامعه میباشد، که متأسفانه نه امنیت درمیان است و نه هیچ نوع ابتدایی ترین شرایط زندگی برای هم وطنان ما فراهم شده است. بلکه به مجرد ورود به کابل و قلمرو حکومت ربانی هر لحظه آبرو، کرامت انسانی، مال، عزت و ناموس، در خطر است. و این موازین مورد حمله قرار میگیرد و تمام موازین حقوق بشري و اسلامی پایمال میگردد، و قتل انسان این اشرف المخلوقات یك مسئله عادی شمرده میشود. آیا مسؤولیت تمام این جنایات بدوش کساني نیست که در رأس به اصطلاح دولت اسلامی قرار دارند؟

اگر در افراد شامل دستگاه ربانی و شخص او شمه ای از ترحم باقی می بود و ترس از خدا می داشت، هرگز مرتکب چنین جنایاتی تاریخی و کشاندن افغانستان بطرف نابودی نمی شدند هر روز که از انحصار طلبی، قدرت، ربانی میگذرد، ضربه ای به حیثیت سیاسی، اسلامی و اقتصادی کشور وارد میگردد و افغانستان درجامعه، بین المللی تجرید میگردد.

دیگر اداره، نامیمون کابل بگذارد این ملت خسته از جنگ، زخمی و بیمار سرنوشت خود را به دست خویش تعین کند و برخود و دیگران اندکی ترحم کند. هرگاه مسئله انتقال قدرت به میان مي آید، ربانی این را بهانه میگیرد که من به کدام جهت مطمئن قدرت را تسلیم کنم.

ولی ما میگوئیم:

ملتی که در راه دفاع از آزادی بر گزیدن شرف، استقلال و دین آسمانی خویش یکنیم میلیون شهید داد. و به شدت در مقابل یك ابر جنابر مقاومت و جهاد کرد، خیلی به آسانی میتواند قیادت خود را تعیین کند. بشرطیکه به ملت زمینه مساعد گردد زیرا از برکت شهامت جهاد و مبارزه، این ملت بود که احساسات آزادیخواهی در آن سوی دریای آمو و اطراف واکناف جهان زنده گردید.

ولی چهره های تزویر این عظمت و افتخارات اسلامی و تاریخی جهاد را خیلی به قیمت ارزان و نازل به همان دشمن شکست خورده فروختند و آنچه از روی سیاهی و محکومیت در تقدیر شان بود بدست آوردند. اداره، کابل در این اواخر تب و تلاشها، دید و بازدیدهای زیادی را به غرض انتقال قدرت بکار انداخته و تظاهر مینمایند که آماده، انتقال قدرت میباشند و از این رهگذر به حل مسالمت آمیز قضیه افغانستان صحه میگذارد و به بحران جاری خاتمه میبخشند اگر خدعه ای در میان نیست و اداره، کابل صادقانه آماده انتقال قدرت میباشد لازم می دانم تذکر دهم که: نهضت اسلامی طالبان از مدت به ظهور آمدن شان تا حال مناطق زیاد را تصرف نموده و فعلاً درین اواخر بر زیاده از نصف افغانستان تسلط دارند و از پشتیبانی اکثریت مردم افغانستان برخوردار اند و مناسب ترین طرف انتقال قدرت میباشند.زیرا اوشان در عمل ثابت کرده اند که قادر میباشند امنیت و صلح را تأمین و نظام شرعی را در کشور حاکم سازند. و قاطبه ملت مسلمان ما به اوشان به حیث یك قوه، محافظ صلح ، امنیت و عدالت مینگرند.

دیگر باید جناحهای که به منظور حل بحران کشور تلاش میکنند به شمول سازمان کنفرانس اسلامی مسئولیت خود بدانند تا در راه انتقال قدرت به شورای عالی اسلامي طالبان، از نگاه منطق جدا کار کنند، زیرا آخرین و یگانه راه حل مشکل کشور و خاتمه جنگهای خانمانسوز و تحکیم نظام عادلانه، اسلامی در میهن همین بوده تا قدرت به این نیرو و لشکر صلح منتقل گردد و دیگر ملت ما پایمال قدرت طلبی ها نگردد.

د ادب ملغلری

ورتېکور یې کړو ټېپونه

ملا اسدالله «حنیفي»

راشی راشی‌چې‌ژوندی یی کړو یادونه
تاو راتاو کړو ترینه د رختي سره ګلونه

چې په وینو یې تمام وطن ګلګون که
تری قربان می شه په مینه اندامونه

د اسلام تری حرم یې چې اوبه کړې
راځئ ورکړو ورته ښکلی لقبونه

چې نازك بدن یې غوښ کړم کړم شو
ځئ چې ورشو ورتېکور یې کړو ټېپونه

چې په تن کښې یې سړې ګرمې ګولی شوی
له هغه زلمی نه ځار شه ډیر میړونه

چې شهید شو د اسلام‌په‌سپینه لار کښې
مبارك یې شه جنت کښې نعمتونه

له هغه شهید نه ځار زما ځیګر شه
چې تاوده یې کړل په وینو سنګرونه

چې یې سر په اسلامی عقیده ورکړ
ځئ پوره یې کړو سپېڅلي ارمانونه

ځئ چې تړه د اسلام چوکاټ کښې وکړو
چې به اخلو له دښمنه کساتونه

که مو وینې د شهید کمایی نه کړی
بیا به نه وایو یو بل ته لقبونه

حنیفي که دی جامې د تن کفن کړی
باور وکړه خدای به درکړی جنتونه

دا موګران افغانستان دی

خوشحال نسل سپوږ وال

چې ټپی یې بلبلان دی دا زمونږ بن او بوستان دی
چې تری جوړی کنډوالی دی داموګران افغانستان دی
سری لمبې دی پکې بلې د آسیا زړګی سوزېږی
د هیواد کلیو، کوڅو کی نن یل رنګ محشر تیرېږی
چې تر غوږه مو رسېږی د مظلوم ولس فغان دی
چې تری جوړی کنډوالی دی داموګران افغانستان دی
د سپېڅلی دین لپاره چا قربان کړل خپل سرونه
د شهید په پاکو وینو چا ودان کړل خپل قصرونه
چې یوښتلی ترینه نه شو دا دستور ددې دوران دی
چې تری جوړی کنډوالی دی داموګران افغانستان دی
د ملت قاتلان څه شول پښیمان راته ژړیږی
هر «خلقی» که «پرچمی» دی د رهبر ترشا پټیږی
د وطن پلورونکی ګورم نن مېلمه د قومانډان دی
چې تری جوړی کنډوالی دی داموګران افغانستان دی
څوك ژوندی خاوروکی پټ شول،څوك میشته شول چېدخانو کی
څه روسانو شهیدان کړل ماشومان زمونږ ځانګو کی
ولی هیڅ ویلی نشو! تل زړګی می په ګریان دی
چې تری جوړی کنډوالی دی داموګران افغانستان دی
ښه سلوك، عدالت نشته د ټوپك قانون چلېږی
د معصومو هیوادوالو وینې هرځای کی بهېږی
ظالمانو چې لوټ کړی دا زمونږه کابل جان دی
چې تری جوړی کنډوالی دی داموګران افغانستان دی
زیه کله به پوره شی پاك آرمان د شهیدانو
چې نظام جوړ شی هیواد کی د سپېڅلو مؤمنانو
له هر چا چې تیوس وشی د«نسل» دغه آرمان دی
چې تری جوړی کنډوالی دی داموګران افغانستان دی

ژوند د مسلمان غواړی

مولانا محمد اسحاق «نظامی»

پورته طالبان دی په خپل ملك کی پاك قرآن غواړی
ژوند د مسلمان غواړی = ژوند د مسلمان غواړی
پورته طالبان دي چې فساد کمبله ټوله شی
دا ورانه به جوړه شي = دا ورانه به جوړه شی
ورك قتل و غارت شي ښه فضا امن و امان غواړی
ژوند د مسلمان غواړی = ژوند د مسلمان غواړی
وروسته له جهاد نه په ټول ملك کی خپور وحشت شو
هر یو کس بې پت شو = هر یو کس بې پت شو
ژوند انسانیت او شرافت خو طالبان غواړی
ژوند د مسلمان غواړی = ژوند د مسلمان غواړی

رباني ته خطاب

محمد اغازه مجنون، له یاغیانانو څخه

نور بس کړه ای ظالمه! طالبان مه مړه کوه
د ښکلو انیاق وارثان مه مړه کوه
ډیر خلك دی تباه کړله نور بس کړه دا ظلمونه
الله چې دی ستایلی عالمان مه مړه کسوه
د حق لاری نه راشه دا باطله لاره پرېږده
خادم چې د قرآن دی حافظان مه مړه کوه
ظلمونه دی ډیروکړل خو لاړه دی پری یخ نه شو
اخر پای دی خراب دی پښیمان مه مړه کوه
تمام خلك دی مړه کړل باچاهی به بیا په چا کړی
ګلونه د وطن دی دا زلیان مه مړه کوه
دا ستا له لاسه خلك مسافر شول هری خواته
لږ رحم خو پری وکړه مظلومان مه مړه کوه
مجنون وایی زما دغه خطاب ته نظر وکړه
بی کوره دربدره افغانان مه مړه کوه

دوردګو غیرتمنو خلکو په افغانستان کښې دایران لاس وهنه وغندله

د طالبانو اسلامي تحریك د افغانستان د مجاهد ولس په پوره ملاتړ سره د فساد دورکولو او په عوض ئې دیوه شرعي نظام د ټینګښت په منظور دیوه کال په موده کښې وتوانید چه دهیواد ترنیمائی زیاته برخه د ظالمو واکدارانو او وسله والو ډلو له منګلو څخه وژغوري او پدې سیمو کښې پوره امنیت ټینګ او محمدي غرا شریعت نافذ کړي.

د کابل نامشروع اداري چه دخپلې واکمنۍ د ساتلو لپاره د زرهاؤ هیواد والو وینې توئې کړې، ملي شتمنۍ ئې لوټ او هیواد ئې دخاورو سره برابر کړ، دطالبانو بریالیتوبونو ته ئې دیوه جدي ګواښ په سترګه وکتل او داېرې ئې د بهرنیانو لاس ونه ویلله، دکابل اداره کومه چه د افغانستان د غیور او مسلمان ولس د کرکې او نفرت سره لاس او ګریوان ده او غواړي ددې ډول تبلیغاتو او ناروسرو په واسطه په هیواد کښې افغان دښمنه مسلط یعنې مسکو، تهران او دهلي په بیشرمانه سیاسي او فوځي لاس وهنو پرده واچوي او دخپل ناروا واکمنۍ عمر یو څو شیبې او ورځې نورهم اوږد کړي.

دکابل انتظامیه ددې شیطاني مسلط څخه په فوځي، تخنیکي او اقتصادي برخو کښې په پراخه پیمانه مرستې ترلاسه کوي چه ددوی په وسلو او مایتونو بار الوتکې یوه په بله پسې د ربانۍ په مخ کښې ښکته او پورته کیږي.

پدې ځای کښې د روسیې او هند دریځونه خو زمونږ اولس ته دجهاد په اوږدو کښې پوره څرګند دي ولې اوس ایران د ورته دریځ په غوره کولو سره غواړي چه دافغانستان واحد ملت د قومي، مذهبي، او ژبنیو تعصباتو په بنا باندې وویشي، تهران ته پواځې دا چه د رباني د اداري څخه فوځي او سیاسي ملاتړ کوي بلکه اوس ئې په مستقیم تیري لاس پورې کړی او غواړي چه په بامیانو کښې کوم چه دوردګو سره په سوونو کیلو متره ګډه پوله لري هوایي ډګر جوړ کړي.

د تهران دغه لاس وهنه او دکابل د اداري سره په ګډه په بامیانو کښې د فوځي قطعاتو جوړیدل نیغ په نیغه د وردګو ولایت امنیت ته کوم چه د طالبانو د تحریك او د وردګو د غیرتمند ولس په ګډه مرسته منځ ته راغلی یو جدي ګواښ ګڼل کیږي.

دوردګو پتمن خلك چه د تاریخ په اوږدو کښې ئې د خپلو مقدساتو او نوامیسو څخه په میړانه ساتنه کړې ده دمسعود، بروجردي دغو تیریو او ګواښونو ته پټه خوله لاس تر زنه نشي پاتې کیدای دوی د مرغومي د میاشتې په پومبیو کښې د جغتو په ولسوالي کې دملي پاڅون په بڼه په پراخو غونډو او احتجاجي مظاهرو لاس پورې کړ او په یوه غږ ئې د دغو تیریو د مخنیوي او دخپلو پولو د ساتلو ژمنه وکړه، پدې غونډه کښې چه دوردګو ولایت له مختلفو برخو څخه سپین ږیرو، علماي کرامو او مجاهدینو ګډون کړی ؤ او دیوه پریکړه لیك په صادرولو سره ئې یو ځل بیا دطالبانو د اسلامي تحریك سره خپل ملاتړ څرګند او ژمنه ئې وکړه چه دوی به دوردګو په پولو باندې د هرډول بهرنی او کورنی تیري ته غاښ ماتونکی ځواب ورکوي.

دافغانستان د جمهوري ریاست له چوکۍ سره مرکه

طنز

«هښیار»

س: که مهرباني وکړئ او ځان راته معرفي کړئ؟

ځ: زه د اور له خوراك(لرګیو) څخه چې خاص ارزښت نلري جوړه شوې یم هسې وچ لرګی یم له ځانه د هیڅ فایدې امید نلرم، لدې پرته چې د سوځېدلو نه وروسته ایره شم.

س: ستاسو عمر څومره دی ایا د زوړوالي احساس نکوئ؟

ځ: زما عمر خو ډیر زیات دی خو زما هر عاشق چې راته راورسیږي ډیره ښه مې ساتي نوی رنګونه او پوښونه راکوي نو زه ځکه د زوړوالي احساس هم نکوم.

س: تاسووویله... زما هر عاشق...، آیا ډیر عاشقان لرئ که څنګه؟

ځ: هوا همداسې ده ډیرو خلکو ځېلې راپسې وشلولې د زیاترو له چیغو او شرو شور څخه اوازېږه وچ شول ډیرو لازما په طمع فاني دنیا څخه سترګي پټې کړې، زیات شمیر کې لدې ارمان سره ولاړل چې کاشکې یو ځل خو مو لاس وربادې لګیدلې وی حال دا چې زه ناچیزه شئ یم.

س: تاسو څه پوهیږئ چې خلك په تاسې پسې دومره هلې ځلې کوي؟

ځ: ډیره ساده پوښتنه کوئ! په نورو ملکو نو کې خلك د یو کانون په واسطه زما همشکلو څوکیو ته ځان رسوي خو تاسو نګوري چې ماته خلك د انسانانو له سرونو څخه زینه جوړوي او تر ما پورې ځان رارسوي.

س: بل دلیل هم لرئ او که نه؟

ځ: هو ! په سلهاؤو دلایل به تاسو ته وړاندې کړم چې د هغوی له جملې څخه یو دا هم دی چې زما په مینه مست له خپلو دښمنانو څخه مرسته غواړي خو چې ترمایې را ورسوي، هغه د ښمن چې د سر قاتل یې دی خو نن ورځنی مرسته غواړي چې ترڅو یې څوك له ما څخه سرپ نکړي.

س: دا چې خلك ستاسې په سرجنګ کوي تاسو د چا په لوری یاست؟

ځ: زه خو بې تفاوته یم هیچا سره د وفا وعده نکوم هرچا چې راته ځان ژر راورساوه د هغه یم.

س: دا چې تاسو مینه وال لرئ آیا پخوانی یاران مو نه دریادیږي؟

ځ: هغه متل دی چې «چېرته دی ښه هلته دی شپه» او یا هم دا «تیرې څپې تیرې راتلونکې څپې شماره» ستاسو د سوال لپاره به همدومره کافی وي.

س: کوم سړی چې ترتا در ورسیږي هغه بیا څه احساس کوي؟

ځ: ترما خو خلك ډیر په سختۍ سره رارسیږي خو که بیا مری او که پاتې کیږي له ماته یې بیا د جدایی دړد نه کیږي او پر ما له سر او مال نه تیروي.

س: ستاسو عاشق په کومو طریقو له تاسو څخه جلا کیدای شي؟

ځ: ما مخکې اشاره وکړه زما هر عاشق په ما باندي له سر او مال نه تیروي د هغه لري کول دوه لاري لري چې یا ووژل شي او یا د سر او مال قرباني ورته کړای شي.

س: په تاسو څومره خلکو سرونه قرباني کړي دي؟

ځ: ماته د هغه چا حساب نه راځي چې ترما پوری رارسیدلی او قرباني شوی پریږده لا هغه چې به لار کې یې له ارمانه ډك ژوند له لاسه ورکړی دی.

س: تاسو په چا خوښ یاست چې در ورسیږي؟

ځ: زه هغه چاته زیاته خوشبینه یم چې اسلامي قانون یې ترما پوري راولي.

س: که په زور او جبر دربانډې څوك کښیني نه څه کول غواړئ؟

ځ: دافسوس خبره خو دا ده چې زه هیڅ عکس العمل نشم کولای که می عکس العمل کولای شوای نو هیڅ ظالم او جابر به مې ځانته نه پریښوده او یا به می په ځمکه کې ځان داسې ورك کړی وای چې زما مېن په خاور پاتې شوی وای.

* * *

څه وو او څه وشول!؟

ابوعبدالعلیم

ددې دپاره چې لوی خدای جل جلاله په ډیر تأکید او ټینګار سره امر کوي چې: «پند او نصیحت وکړه، بې شکه چې پند مومنانو ته ګټه رسوي.» (الذاریات: ٥٥) غواړو د رمضان په دغه مبارکه میاشت کی چې د رحمت او مغفرت میاشت ده، د مسلمانانو زړونه د مسلسل عبادت او ځاني تزکیې په اساس نرم شوي دي، د اسلامي جهاد مسؤولین د خپل جهاد او مبارزې ستر تاریخ ته متوجه کړو، چې دوی څوك ؤو؟ په څه حال کې وو؟ څه کار نامې یې وکړې؟ کومې غلطۍ یې وکړې؟ او اوس څه ورته ښکار دي؟

الله جل جلاله د صدر اول د مسلمانانو د جهاد او مبارزې په لوړو او ژوروکی ددوی پام همدغو پوښتنو ته اړوي او فرمایي:

«هغه وخت در په یاد کړئ، چې تاسې لږ واست، په ځمکه کی مستضعفین او بې سیکه کرایشوی واست ، نه دی باندې ویریدلې چې څوك به مو وتښتوي (اله مینځه به مو یوسي) نو بیا الله جل جلاله تاسې ته د پناه ځای درکړ، په خپل نصرت او مرستې یې د تاسو لاسونه مضبوط کړل او ښه پاکه روزي یې در په برخه کړه، ددې دپاره چې تاسې شکر وباسی! ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی(ای مؤمنانو) له الله جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم سره خیانت مه کوئ، او په خپلو امانتونو کې د خیانت او غداری ارتکاب مه کوئ، حال دا چې تاسې پوهیږئ، او په دې پوه شئ چې د تاسې مالونه اولادونه د تاسې د پاره ابتلا اوازموینه ده، بې شکه چې له الله جل جلاله سره ډیر لوی اجر او ثواب دی(چې تاسې یې باید په لټه کې یاست)» والانفال:۲٦-۲۸»

ای د جهاد مخکښانو! د ګوندونو مشرانو، د اسلامي جهاد وارثانو! هغه وخت در پیاد کړئ چې: په افغانستان کې آګاه او مخلصو مسلمانانو ته دپردي او اجنبي په سترګو کتل کیدل، واقعی اسلام به د دولت په رسمي ارګانونو کی ځای نه درلود، د هغه وخت واکدارانو به د استعماری او کفری ځواکونو د خوښۍ او رضا د پاره په مسلمانانو باندې د ژوند ساحه له هری خوا څخه تنګوله، او په راز راز تومتونو به یې نه یواځې د هغه شخصیت په ټولنه کی بدنام کاوو او تحقیر کاوو بلکې د دولتي دستګاه له خوا به ځورول کیدل، توطیئې او دسیسې به ورته جوړیدلې.

هغه معارف چې هلته باید د مسلمان بچی مسلمان تربیه شوی وای، په هغه کی به د نصابي زده کړو په ځای غیر نصابي زدکړې د مارکس، لینین او داروین فلسفې شاګردانو ته په ښکاره تلقین کیدلې، په دین او دیندارانو به ملنډې او مسخرې وهلې کیدلې، د مسلمانانو ځانونو به اسلام او مسلمانانو ته کنځلې کولې، د کفر او الحاد شعارونه به په ښوونځیو، پوهنتونونو او دولتی ادارو کې په ډګر باندې ورکول کیدل، د دولت واکداران او دولتی مامورین به په اسلامي احکامو او اسلامی اصلاحاتو شرمیدل. په خپلو بیانیو او خطابو کې به بې په بسم الله او سنت خطبه باندې د خجالت احساس کول، اسلامي شعائر به تر پښو لاندې کیدل. د دین عالمانو، طالبانو، محصلینو او ټولو مخلصو مسلمانانو د دردونو او کړاونو ، مظلومیت او محرومیت شپې او ورځې وې.

او بالاخره هغه وخت خو در په یاد کړئ چې په هیواد کې دهریانو ماتریالستانو او کمونیستانو د سرۀ استعمار په ملاتړ د سیاسي قدرت واګې نیغ په نیغه په لاس کې ونیولې او د اسلام او مسلمانانو په خلاف یې د دهریت سیلاب راروان کړ. او وروسته روسانو مستقیماً په آزاد اسلامي افغانستان کی خپلې لښکرې راټولې کړې، په زرګونو هیواد وال، عالمان، مخلص مسلمانان یې په شهادت ورسول، په لکونو افغانان یې کوره او له هیواد څخه په هجرت باندې مجبوره شول.

(څلورم مخ)

آن مسلمانان که میری کرده اند
در شهنشاهی فقیری کرده اند

خاطره

په دغو ورځوکی طالبانو داسلامي تحریك د پیښور له نمایندګی نه د هغو علماوو کرامو یو هیئت چې د طالبانو د اسلامي تحریك د مرکزي شوری غړي دي کندهارته د ځینو کارونو لپاره تللی ؤ، په دوی کې جناب الحاج مولوي محمد صادق صاحب او جناب مولوی شهاب الدین(دلاور) صاحب او جناب مولوی محمد مسلم حقاني صاحب وو، دوی چې هلته څه لیدلي وو هغه تاثرات یې داسې ښکاره کړل:

۱- جناب مولوی محمدصادق صاحب: زه دکندهار په ښارکې د شرعي نظام له نافذ کیدلو نه هومره متأثر شوم چې زما د خوابمراړ شهید زوی - حسین جان- او نورو شهید شوو شاګردانو د وینو ارمان نه کرم، هغه میدان چې یو کال مخکې به یوې خوانه د جنګولو سپي ترلي وو، بلې خوانه به کرګان او هلکان ناست وو او بلې خوانه به دچرسو چلمونه وهل کیدل. اوس- الحمدلله- هغه ټوله سیمه په لمونځ ګذارو ډکه ده، له هغې ورځې نه چې د (امر بالمعروف و النهي عن المنکر) کمیټې جوړې شوې دي له اذان سره سم په ښار کې ټول دکانونه تړل کیږي، موټر سایکل او نوري نقلیې وسیلې به ټپه ولاړې دي، په جماعت کې دومره خلك را غونډوي نه به وایې چې دجمعې لمونځ دی، اوس په مسجدونو کی خلك نه ځائیږي او د طالبانو له اسلامي تحریك څخه غواړي چې مسجدونه پراخ کړي او ورسره د پراخولو کار هم - الحمد لله- پیل شوی دی.

۲- مولوی صاحب شهاب الدین دلاور: د تحریك په مشرانوباندې نورهم ډاډه شوو ځکه چې: په یوه کې هم هیڅ قسم کبر او لوبې نشته - الحمد لله - په ټولوکې زیاته خاکساري ده.

۳- مولوی محمد مسلم حقاني: زه له هر څه نه د حاجي ملا محمد حسن اخوند پرهیزګاری حیران کړم؛ د تحریك له امیر صاحب نه رانیکه ټول اختیارات ورسره دي او دکندهار والي هم دی، دی وایې! یوه ورځ له کورنه راوتلم یوی کوچنۍ لورمې راته وویل: یو (سل) افغانی خو راکړه، ما ورته وویل: زما خپلې نشته دي، دغه د ملت پیسې راسره دي، دی په ځواب کی راته وویل: دغم والی‌شی: خدای دی بیا کورته مه راوله.

حقاني صاحب وایي: مولوی صاحب احسان الله احسان راته وویل چې زما په نظر د ملا صاحب ملا محمد عمر اخند په کورکی دومره څه شته چې پنځه ورځې یې وخوري. احسان صاحب داهم راته وویل او قسم یې وکړ چې: دا یوکال زمونږ په کور کښې هیڅ مالتې نه دی خوړلې. چې تر ټولو میوو ارزانه دي او یې وسه کورونه یې هم په میاشت کې یو ځل خوړلی شي.

د کابل اداري پله ...

د کوزیدلو اجازه وغوښتله د کوزیدونه وروسته په الوتکه کی د گمرك ماموریتو ته وویل چی:

په الوتکه کی تخنیکی سامان بار دی چی د باگرام هوایی ډگر ته روان یو.

خو وروسته د قزاقستان گمرکی ماموریتو د پیلوټانو د خبرو بر عکس په الوتکی کی، د ټانك ضد راکټونه، او په سل گونو صندوقونو ولك جنگی مهمات کشف کړل چی کابل ته لیږول کیدل. د قزاقستان د دولتی امنیت د کمیټی ویاند ددغی پیسی په اړوند ویلی دي: چی دقزاقستان واکمنو دکابل حکومت ته روانه وسله ضبط کړه، او نوموړې الوتکه یې بیرته خپل حکومت ته وسپارل.

ویاند زیاته کړه چی: دغی الوتکی د بلغاریا د یو ښارته الوتنه کړی وه، غوښتل یې د قرغیزستان د مرکز «بشکیك» له لاری نه ځان د افغانستان د بگرام هوایی ډگر ته ورسوی، په مسکو کی د بیلاروس د سفارت مسؤلینو د دغی پیسی په هکله خپله ناخبری څرگنده کړی ده.

په مسکو کی د جنرال دوستم نږدی سرچینو ویلی دی چی دغه معامله دیوه افغانی سوداگر چی رئیس مقصود نومیږی، او د پخوانی کمونست رژیم یو لوړ رتبه مامور عبدالکریم «بهاء» له لاری ترسره شوی ده. دوی داهم ویلی دی چی نوموړی کسان اوس د قزاقستان له واکمنو سره بندیان دی. د قزاقستان د استخباراتو اداری د پیسی تحقیقات پیل کړی دی او د دغی پیسی تائیدی کړی دی هغه وویل چی په اوس حالاتوکی دیر جزئیات نشی افشا کولی.

په قزاقستان کی نیول شوی الوتکه هغی الوتکی ته ورته ده چی د طالبانو اسلامی تحریك شپږ میاشتی مخکی په قندهار کی راکوزه کړی وه. په هغه کی هم په زیات شمیر نظامی مهمات باروټ، او پیلوټان یی اوس هم په قندهار کی له طالبانو سره بندیان دی.

دادی د هیواد والو او ټولی نړی په وړاندی یو حلی بیا سکاره شوه چی د کمونستانو په شانی د ربانی حکومت هم د روسانو له خوا په وسلو سمبالیږی.

د اسلامی تحریك

پیل وریسی د هیواد په روانو سیاسی، نظامی، اجتماعی او تجارتی حالاتو مفصل خبری وشوی او لازم تدابیر ونیول شول. او دغونډی پریکړی اړونده اداروته ورکړای شوی.

غونډه په گران افغانستان کښی د ریښتونی اسلامی حکومت د جوړیدوپه دعا پای ته ورسیده.

د خوست ولایت د ...

خبر ځای زیاتوی مرحوم مولوی صاحب غورغښتو موحوم مولانا صاحب شاگرد وو او په زرگونو شاگردانو ته یی د فضیلت پگړی ورتړلی دی، کله چی د افغانستان جهاد پیل شو مرحوم د خوست ولایت د علماء کرامو صدر وټاکل شو او مولوی صاحب عبدالحکیم (شریعی) یی د ناظم په حیث مقرر شو.

د مرحوم مولوی صاحب د جنازی په مراسمو کی د خوست ولایت ټولو عالمانو طالبانو او په زرگونو مسلمانانو گډون کړی وو او دمولوی صاحب د صدارت او فضیلت پگړی دده زوی مولوی صاحب عبدالجلیل ته وروتړل شوه.

عالم ربانی شیخ الحدیث ..

علاقه، چپرهار بوده از جمله، علماء مشهور و جید کشور بودند که خدمات شایان شان در ساحات علمی و دعوت اسلامی در کشور انجام داده اند جناب شان بعد از کودتای الحادی هفت ثور مردم را دعوت به جهاد و قیام علیه رژیم الحادی کمونست کردند و در این راه سعی بلیغ به خرج دادند.

و بعد از هجرت در فامیلهای مولی صاحب خالص واقع شمشتو، و مدرسه، دینی غلجو واقع ورسك رود پشاور مصروف تدریس و تعلیم قرآن کریم، واحادیث نبوی (علی صاحبها الصلواة و التسلیم) بودند. خبر می افزاید که: جنازه، مرحومی را بعد از ادای نماز جنازه در شمشتو به چپرهار مدیره، آبائیشان انتقال دادند.

خبر می افزاید که جناب مولانا از جمله، آنعده از علماء بزرگ و جید کشور بودند که از تحریك اسلامی طالبان حمایه جدی خویش را اعلان داشته و در این راه خدمات قابل قدری انجام دادند، و در این مسیر مقدس قربانیهای زیادی مادی و معنوی داده اند.

ما در حالیکه برای مرحومی از خداوند ارحم الراحمین مغفرت التجاء داشته برای بازمانده گانشان و جامعه، علماء و روحانیت افغانستان صبر جمیل تمناء کرده و خداوند(ج) این خلاء بزرگ را به خلف صالحی پر نماید.

در ولسوالی انجیل ..

که بدون حق شرعی سه نفر را کشته و از طرف محکمه، شرعی به قصاص محکوم شده بود این جزای شرعی در حضور جمع غفیری از مسلمانان بشمول والی هرات، رئیس محکمه مولوی عبدالشکور منشی شورای ولایتی، حارنوال ولایت متذکره و رئیس حج و اوقاف مولوی عبدالخالق بالای مجرم تطبیق گردید. قبل از آن رئیس حج و اوقاف و علمای کرام دیگر درباره، اهمیت قصاص و تأثیر عمیق آن در امن عامه بیاناتی مفصلی ایراد کردند. در اخیر محترم والی هرات به اهمیت ارزش های اخلاقی و اجتماعی و تاثراقامه، حدود شرعی در آن به تفصیل روشنی انداختند.

خبر می افزاید که ۸ نفر دیگر نیز که در همین دوسیه بحیث مجرم شناخته شده بودند هر کدام به جزای شانزده سال حبس محکوم گردیدند.

د اسلام خادم ملا محمد عمر «مجاهد»...

له ولی سره په داسی حال کښی چی دحج او اوقافو رئیس سید غیاث الدین (آغا) هم حاضر وو وکتل.

په پیل کښی راغلیو علماء کرامو د خپل ولایت د دین دوستو خلکو په نمایندگی خبری وکړی او زیاته یی کړه: د بادغیس ولایت مجاهد خلك دیته ډیر لیواله دی چی دکابل لاس پوڅی اداری په وړاندی دطالبانو د اسلامی تحریك له مجاهدینو سره اوږه په اوږه جهاد وکړی. او د اسلام خادم ته یی د خپلو خلکو له تحریك سره دپوره همکاری ډاډ ورکړ.

وروسته د تحریك امیر د عالمانو او د بادغیس دمجاهدو خلکو دنیکو احساساتو مننه وکړه او دوی ته یی هم د بادغیس ولایت د خلکو دمشکلاتو دحل ډاډ ورکړ.

د چرخ ولسوالی ...

تلاوت پیل وریسی دغونډی برخوالوته علماء کرامو سپین ږیرو او مشرانو په زړه پوری خبری وکړی او له طالبانو سره یی خپل بشپړ ملاتړ بیا اعلان کړ چی وریسی د چرخ ولسوال ملا محمد شریف (سعیدی) د غونډی برخوالوته د تحریك په اهدافو رڼا واچوله او زیاته یی کړه دغه اسلامی تحریك پاکو خلکو پیل کړی د پاکو خلکو په پاکو وینو مینځ ته راغلی او ان شاء الله د پاکو خلکو په همکاری به دکامیابی پړاوته رسیږی.

دغه راز ولسوال صاحب د چرخ د مؤمنو خلکو له طالبانو سره د پوره همکاری مننه وکړه.

او غونډه دیوتن سپین ږیری دینی عالم لخوا په دعا کولو پای ته ورسیده.

د جهاد د بیاوری قوماندان.

ددوی په وړاندی مقاومت وکړی، ان شاء الله تعالی طالبان به ژر ترژره د الله پاك (جل جلاله) په نصرت او مدد سره خپل مقدس هدف او مرام ته ورسیږی او هم به مسلمانانوته د خپل هیواد دسرنوشت پخپله ټاکلو لپاره هر ډول قربانی ووکړی او دلوی خدای(ج) په مرسته به په ټول هیواد کی یو سوچه اسلامی شرعی نظام را منځ ته، امنیت تأمین او د مقدسی جهاداهداف به ترلاسه کړی، زموږ هیله داده چی هیواد وال دهر ډول قومی، سمتی، لسانی او نورو تعصباتو څخه ځان وساتی ځکه چی داسی تعصبات د ټولو فتنو او فسادونو سبب گرځی، د طالبانو مقدس تحریك دهم دغه مقصد لپاره پیل شوی دي چی فتنی او فساد ختم او یو سپیڅلی اسلامی نظام را منځ ته کړی؛ د طالبانو ورونو څخه هیله کوو چی په ټولو چاروکی د تقوی، د امر اطاعت او نظم لازیات مراعات وکړی، ډیر ژر به د الله په توکل په ټول ملك کی یو سوچه اسلامی نظام پلی شی. ان شاء الله تعالی

قوماندان مشهور شورای نظار بابه جلندر کشته شد

دشمنی شدیدی مسلحانه میان حلقه های مسلح پنجشیری در گرفت

خبرنگار خصوصی ما از کابل خبر میدهد که:

بابه جلندر قوماندان مشهور شورای نظار توسط حبیب برادر جنرال فهیم رئیس عمومی امنیت ملی (خاد) اداره، کابل وقتی در پنجشیر بقتل رسید که اختلاف میان او و حبیب برادر فهیم در یك مسابقه، بزکشی رخ داد. حبیب مسؤل تیم بزکشی آریانا میباشد و بابه جلندر مسؤول تیم هندوکش بود.

خبر می افزاید که اختلاف شدیدی مسلحانه میان حلقه های مسلح پنجشیری شوری نظار در گرفته و در هر کنج و کنار شهر کابل و پنجشیر میان گروپهای حامی بابه جلندر و جنرال فهیم موضعگیریهای صورت گرفته و به ترور افراد یك دیگر مبادرت میورزند.

قابل تذکر است که اختلاف میان فهیم و مسعود از مدت زیادی در گرفته و قتل بابه جلندر که از قوماندانان مشهور شوری نظار میباشد و در خطوط مقدم جبهه، کابل علیه تحریك اسلامی طالبان از قوت قابل ملاحظه، برخوردار بود سبب اصلی اش همین اختلاف مسعود و فهیم پنداشته شده میتواند. منابع باخبر کشیدن تفری دو قوماندان شورای نظار (بریالی و گدا) را از گارد ریاست جمهوری نیز حلقه ای از زنجیر اختلافات شان میدانند.

بعد از هفده سال شبکهء اب نوشیدنی ولایت خوست دوباره فعال گردید

ازولایت خوست خبرنگار(شریعت اونیزه) خبر میدهد که:

شبکه، آب نوشیدنی ولایت خوست بعد از هفده سال به اثر کوشش وسعی بلیغ شاروالی خوست وهمکاری موسسه، G- T Z - مجدداً احیاء گردیده به فعالیت آغاز نمود، خبر می افزاید که: بعد از آنکه شاروالی ولایت خوست به همکاری مقامات امنیتی ولایت متذکره مؤفق گردیدند که نل ها و وسائل دزدیده شده، ریاست آب و برق ولایت خوست را از جاهای مختلف بدست آورند، به ترمیم و احیاء مجدد ذخیره، بزرگ آب نوشیدنی و احداث نلهای که از ذخیره به شهر و منازل مسکونی آب میرساند به همکاری موسسه، G-T-Z اقدام نمودند که به اثر آن اکثر اهالی شهر و مؤسسات و ادارات دولتی از نعمت اب صحی نوشیدنی بهره ور گردیدند. خبر میگوید که در این نزدیکیها تمام اهالی شهر از نعمت آب نوشیدنی مستفید خواهند شد، این اقدام نیك و عمرانی مسؤلین ولایت خوست به خصوص شاروالی آن ولایت را مردم آنجا به نهایت حسن استقبال و تمجید نموده این اقدام را نمونه و سمبول اعمار مجدد و ترقی کشور تلقی داشته گفتند: که بعد از هفده سال باز به خانه های ما آب صحی توسط نلها رسید.

فیصله شورای علماء ومتنفذین کمپهای لوگر وخاره به ارتباط اسیران روسی

خبرنگار ما از کمپهای متذکره خبر میدهد:

در شورای که علماء کرام، مشران قوم و موسفیدان کمپهای کاهی اشتراك ورزیده بودند، فیصله به عمل آمد که:

۱- ما مؤثرانه وجدی ازروسها خواستار اسیران خود میباشیم، باید روسها به ارتباط بندیهای ما اقدام جدی نموده تا معلومات اسیران ما رافراهم نمایند.

۲- ما احترامانه و جدی از شورای عالی تحریك اسلامی طالبان میخواهیم که:

که در حصه، رهائی اسیران روسی اقدام و فیصله ننمایند تا وقتیکه روسها سرنوشت اسیران افغانی به خصوص علماء کرام، مشایخ عظام و حضرات مجددی که در نزد اوشان اسیر میباشد معلوم نکرده و به ملت مسلمان افغان اطمینان لازم و قابل قبول فراهم نکرده باشند.

در این شوری جناب مولوی ملتان، خلیفه صاحب عبدالرشید، مولوی عبدالواحد، مولوی عبدالرحیم، مولوی عبدالرشید صاحب زاده، مولوی سیداکبر، خلیفه صاحب نظر محمد، اسدالله اخندزاده، ملك شیرخان، حاجی احمدزئی، و حاجی بسم الله و تعدادی کثیری از علماء و بزرگان و اهالی کمپهای متذکره اشتراك داشتند.

دخوست والی دیوی ډلی په مشری هرات تــه روان شــو

د خوست له ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی دروان هجری لمریز کال د سلواغی د میاشتي په ۱۰ مه نیټه د خوست والي، د محکمی رئیس او نورو ملگرو په مشری کښی د هرات ولایت په لور روان شو. خبریال وړاندی لیکی د خوست والي او ورسره ملگری دهرات یو سفر لپاره د هرات مسؤولو مقاماتو ته ور روان شوی غواړی چی دخوست او پکتیا ولایتونو د کارونو د ښه سمون په هکله د تحریك له مشرانو سره تبادله، نظر وکړی.

د لوگر والی محترم مولوی محمد کبیر ...

ټول به په گډه کوشش کوو تر څو د لوگر ولایت په ټولو سیمو کی په مکمله توگه د اسلام الهی احکام نافذ کړو؛ همدارنگه د خلقو د مشکلاتو د حل په اړه هغوی ته د اسانتیا برابرولو لاری ولټوی.

ده په خپلو خبرو کی زیاته کړه چه دملت سترگی تن ورځ یواځې ستاسو لورته اوړی تاسویه دهغوی هر ډول مشکلات هر وخت په نظر کی لری، که یو ځاروی ته هم کوم مشکل رسیری مسؤلیت به یی ستاسو په غاړه وی په اخیر کی محترم والی صاحب د کارونو دلابنه تنظیم په هکله لازمی لارښوونی وکړی.

یك اندازه مهمات

مقامات امنیتی آن ولسوالی در این اواخر ضمن تلاشی از یك موتر سه صد ماین ضد تانك، سه صد فیر مزائیل و سه میل تفنگ و یك میل کلاشینکوف را کشف و ضبط نمودند و مهمات و سلاح متذکره را به دیپوهای مرکزی انتقال دادند.

محترم مولوی احسان الله «احسان»...

عضو شورای عالی تحریك اسلامی در مهمانخانه شوری عالی ملاقات نمودند.

راپور می افزاید که: در این ملاقات اوضاع سیاسی، نظامی کشور مورد بحث قرار گرفت و ملا نور الله آخند، وضعیت خطوط مقدم جبهه را نهایت اطمینان بخش اظهار داشته، از مورال قوی نظامی مجاهدین مخلص و با شهامت تحریك اسلامی و نظم خوبی ایشان توصیف زیادی نموده، گفتند ان شاء الله آن وقت فرا رسیده که اداره، مزدور و بدنام ربانی سرنگون و نظام اسلامی در کشور حاکم گردد. در مقابل جناب مولوی احسان صاحب از فعالیت خوب مجاهدین اوشان اظهار اطمینان و قدر دانی نموده، از درگاه خداوند متعال برای شان توفیق مزید در راه خدمت دین مقدس اسلام در کشور آرزو داشتند.

ملا محمد حسن آخند.

خبر می افزاید که از طرف مسؤولین فابریکه در مورد ماشین آلات و بخشهای مختلف فابریکه به اوشان معلومات داده میشد، محترم والی صاحب ضمن صحبت خویش با مسؤولین و کار گران فابریکه متذکره به اوشان اطمینان دادند که:

ماکوشش مینمایم هرچه زودتر فابریکه جهت خدمت به هم وطنان و نجات اوشان از بیکاری خوبتر فعال گردد.

دفتر ترافیك ولسوالی ...

ضمن مراسمی که در آن ولسوال بولدك و معاون ریاست عمومی ترافیك و منسوبین ادارات و علاقمندان اشتراك ورزیده بودند دوباره فعال گردید. خبر می افزاید که این اقدام به اثر هدایت و فیصله، مقام ولایت قندهار صورت پذیرفته که در آن آمده است: دفتر ترافیك بولدك جهت تنظیم و بهبود امورات ترافیکی و ایجاد سهولیت به هم وطنان گرامی فعال گردد.

خادم اسلام ملا محمد عمر آخند...

خبر می افزاید که: طی این ملاقات وضعیت سیاسی و نظامی کشور مورد بحث قرار گرفته به آن اظهار اطمینان کردند. خبر میگوید که ملاسراج الدین آخند درمورد ولسوالی متذکره معلومات ارائه داشته وضعیت امنیتی آن ولسوالی را بکلی اطمینان بخش گفتند دراخیر امیرتحریك اسلامی طالبان افغانستان درمورد بهبود کارهای آن ولسوالی هدایات لازم داده و اوشانرا متوجه وظیفه، خطیر شان نمودند.

سه تن از مظاهره.

و تعدادی زیادي دیگری مجروح شدند که از طرف محافظین به اصطلاح گارد ریاست جمهوری اداره، نام نهاد کابل به رخ مظاهره چیان آتش کشوده شد، خبر می افزاید که بعد از رخ دادن این واقعه مظاهره چیان پراگنده شدند، و همچنان خبر میگوید که چند روز قبل از این مظاهره، مظاهره، مشابه دیگری در وزیر اکبر خان از طرف مردم شهر به راه انداخته شده بود که هزاراهاتن از شهریان کابل در آن اشتراك ورزیده و خواستار استعفی ربانی بودند. خبر میگوید که این مظاهره، اهالی کابل بعد از سقوط نجیب بزرگترین قیام و مظاهره در کابل پنداشته میشود. مادر حالیکه به روح شهداء قیام تاریخی مردم شهر کابل علیه رژیم نام نهاد ربانی الحاف دعا فرستاده، صحت عاجل مجروحین را از خداوند(ج) تمناء نموده از این قیام تاریخی و شجاعانه، مردم حمایت خویش را ابراز میداریم.

اداره، کابل.

قابل تذکر است که اداره، ظالم و جنایت کار کابل بارها اعلان کرده بود و اصرار میورزید که راه های منتهی به شهر کابل از طرف تحریك اسلامی طالبان مسدود گردیده و نمیگذارند که مواد ارتزاقی داخل شهر شود، اما وقتیکه فشار کمبود مواد ارتزاقی و بلند رفتن قیمتها بشکل سرسام آور آن مؤجب گردید که قیام مردم شهر را علیه اداره، کابل سبب گردد و آژانسهای خبری بین المللی خبری از ایجاد شدن فاجعه، را در کابل به آب و تاب خاص پنشر سپردند، اداره، کابل وادار گردید، که پرده از جنایت بزرگ و تاریخی خویش برداشته اعتراف نماید که راه میدان شهر و کابل را از مین های فرش شده، خویش پاك سازی نموده است و راه قابل عبور و مرور برای ترافیك میباشد که متصل به آن تعداد کثیر از موتر های حامل مواد ارتزاقی داخل کابل گردیده برای مردم مظلوم شهر کابل و جهانیان صدق و ادعای تحریك اسلامی طالبان که بارها گفته بودند که ما راه ها را نبسته ایم بلکه اداره، کابل راه ها را بسته است ثابت شده و از جانب دیگر جنایت نا بخشودنی دیگر اداره، کابل در پهلوی صدها جنایت آنها علیه مردم ما واضح و هویدا گردید.

و همچنین است: راکت زنی به شهر کابل که این جنایت بزرگ را خود اداره، ناتوان و بی کفایت کابل مرتکب میشود ولی بی شرمانه نسبت آنرا به تحریك اسلامی طالبان میکنند.

د حج او اوقافو ریاست خبرتیا

ټولو ٔیواد والو ته خبر ورکول کیږی چی هر هغه څوك چی د حج د مبارکو مدا سکو اداکولو تکل لری، کولای شی چی د لوی (سلواغی)د میاشتی تر شلمی نیټی پوری د ٔحج او اوقافو ریاست ته په کندهار کی مراجعه وکړی.

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)

دکابل د اداری مشرڅه وایی؟!

له هغی ورځی نه چی د کابل اوسنی بدمرغه اداره منځ ته راغلی ده نه دوی پخپله روغه ورځ لیدلی ده او نه ددوی له شومیت نه د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت یوه گړی په ښه زړه کیناستلی دی.

ښه ! چی د کابل اداری روغه ورځ هم نه ده لیدلی او بیا لا کلك په دغه تش په نوم اقتدار پوری نښتی دی نو یو څه به وی! یا به په چوکی پسی لیونی وی، په کلونو کلونو به یی د چوکی پیدا کولو چورتونه وهلی وی، حیلی او چلونه به یی کړی وی، ډیر خپل او بل به یی غولولی دی، ډیر دروغ به یی ویلی وی او په دی لاره کی به یی ډیری هلی ځلی کړی وی. اوس یی چی مینډلی ده که ربښتی هم نه ده دوی یی ځان نه غټ بریالیتوب گڼی او د هغی په سر یی د ټول ملت دښمنی نه ملا تړلی ده.

او یا به د پیسو لیونی وی چی اوس یی بی ښی ډیری د ټول افغانستان په سطحه په یو څو تنو سره میندلی دی په خپل زړه افغانی چاپوی، هرڅومره چی وغواړی چاپولی یی شی، له دی امله نن سبا د بوسو په بیه خرڅیږی.

که هره یوه خبره وی خو دا اداری مشران لکه سر مغزن داسی خبری کوی او تلك پلك متوی رامنځ وهی په دغو ورځو کی ربانی چاته خبری کولی د خبرو موضوع یی بیخی نه وه، دروغ او حیلی یی ختمی شوی وی بوازی د طالبانو په اسلامی تحریك پسی یی سپکی سپوری ویلی، دا یی هم وویل چی:«طالبان د جهاد د بدنامولو لپاره چا گمارلی دی...»

له دی خبرو نه اوس خلك داسی اټکل کوی چی ربانی له ډیر چل ول او ډیرو فریبونو څخه سر کافته شوی دی ، خبری یی بی ځایه لگیږی.

دا ځکه چی طالبان خو ددغه ولس د مسلمانانو زامن وروڼه دی، د خپلو مسلمانانو په منځ کی را لوی شوی دی، له خپلو علماوو څخه یی دین او علم دین زده کړی دی، له خپلومشرانو نه یی ننگ او غیرت زده کړی دی، له کوم بل ځای څخه نه دی راغلی چی گمارلی وی نو ځکه د ملت خلك د زړه له کومی مینه ورسره کوی د خپلی خولی مړی ورته سپموی.

ربانی او دده الیجوالانو د طالبانو له راپورته کیدو څخه لا ډیر پخوا جهاد بدنام کړی ؤ، جهاد لا څه چی مسلمانی او د افغانستان د غیرتی مسلمانانو هرڅه یی بدنام کړی ؤ، ددوی د بدماشانو له لاسه نه څوك په کور کی بی غمه وو، نه په بازار کی نه په لارو کوڅو کی، نه په دینتو اوعزتونو کی خلاصیدل.

د طالبانو مشران د کمونیستانو په ضد جهاد نه راستانه شوی وو او بیرته یی خپلو زده کړو ته مخ کړی وو، او کشران یی په مدرسو کی د قرآن مجید په حفظ او د علم دین په زده کړه بوخت وو چی ربانی او الیجوالانو یی جهاد، مسلمانی، د مسلمان ملت ننگ غیرت او هرڅه په شرمو وشرمول، توله نړی یی په مسلمانانو او جهاد پوری وخندوله، نو هله لوی او واړه طالبان ددغه شرم په اور وسوځیدل او کتابونه یی د جوماتونو په طاقچو کی کیښودل، په پخلکو او یوه یوه چادر کی یی رامنځ کړی او د ربانی او نورو په لاری وهونکو، غلو، چرسیانو او فاسقانو یی برید څنی کړی. ترڅو یی له نیمایی نه زیات د افغانستان مسلمانان د الله تعالی په کومك د دوی له شر او ناولو منگولو څخه وژغورل- الحمدلله-

اوس هغه ورځ ډیره نږدی ده چی-انشاء الله تعالی- ټول مسلمان افغانستان په ددغو مکارانو، غلو، خونکارو او بی کفایته تش په نامه واکدارانو له لاسه وژغوری.

لنډه دا چی د جهاد بدنامول د ربانی له اداری سره جوخت دی ده او د څینی نورو مفسدینو لخوا په یو ځای زیږیدلی او همزولی یی دی اوس دی دا خبره دوی پخپله وکړی چی د جهاد او مسلمانی د بدنامولو لپاره دوی چا گمارلی ؤو؟

که دا خبره نه کوی نو خلك پخپله پوهیږی چی: یا به چاگمارلی وو او یا به فطرتاً له جهاد سره په زړه کی کرکه لری نو ځکه یی په دغه لار کی خپل ټول وس، توان په کار واچاوه.

څه وو او څه ...

هغه وخت خو در په یاد کړیا چی ټولو هیواد والو په یوه خوله، په یوه اتحاد، اوزبك، ترکمن، پښتون، تاجك، هزاره، بلوچ د تاسی په لارښود د روسانو د سره لښکر په مقابل کی د اسلامی جهاد درنده وظیفه پیل او سور استعمار (پخوانی شوروی اتحاد) یی د نړی د نقشی څخه لری کړ، اسلام بریالی او کفر نامراده شو.

پکار خو داوو چی د لوی خدای جل جلاله د دغه ستر نعمت شکرانه ادا شوی وای، خپلو نواقصو او غلطیو ته په توجه سره مو د الله جل جلاله د حمد او ثنا سره سره د هغه په دربار کی استغفار کړی او بښنه غوښتلی وای په هیواد کی مو یو واقعی اسلامي دولت جوړ کړی وای څو مو له یوي خوا الله جل جلاله رضا او له بلی خوا مو د ځوریدلی مسلمان ملت مادی او معنوی زخمونه تداوی کړی وای، د هیواد د ټولو پرگنو او قومونو تر منځ مو د اسلامی ورورولی ، عدل او برابری مزی ټینگ کړی وای.

پکار خو دا وو چی د مؤمنانو خویونو او صفتونو په خپلولو چی«د کافرانو په مقابل کی به سخت او خپلو منځونو کی به مهربان او زړه سواندی وی» (الفتح:۲۹) د مسلمانانو په خلاف مو د هیواد یو نیم میلیون قاتلانو سره د دوستی تړونونه نه وای لاس لیك کړی، هغوی ته مو په هیواد کی په مسلمانانو باندی د واکداری او تسلط فرصت نه وای ورکړی؛ د خپل منځی جگړو او اختلافونو په سبب مو د هغوی د پاره د امن او سکون فضا نه وای برابره کړی.

خو له بده مرغه، داسی ونه شول، مسلمان د مسلمان دسمن کړای شو، د جهاد وسلی بیرته په مجاهدینو باندی راوگرځولی شوی، د خلکو مالونه او ناموسونه لوټ او تالا شول، هره لاره او سرك، هر کلی او گودر پاټکونه شول، چور او چپاول شو، بی عزتی او بی ناموسی شوه، ملت نا امیده شو، د شهامت او غیرت دنگی مناری یی را پریوتی، ژړاوی او فریادونه شول، ټولی هیلی په ناهیلو بدلی شوی.

اوس چی د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك د ملت د هیلو او ارزوگانو وروستنی ځلی جوړ شوی، او د همدغو گډوډیو او انحروافونو په خلاف یی له سره خپله مبارزه پیل کړی ده، د ظلم او استبداد د لری کولو او په هیواد کی یی د اسلامی شریعت د پلی کولو کلك تصمیم نیولی دی، او عملاً یی په له نیمایی نه زیات افغانستان کی د اسلامی جهاد ستر اهداف ترلاسه کړی دی. لوفاران او قطاع الطریقان یی له مینځه وړی دی، د لویدیزو نړی او نورو کفری طاقتونه په مقابل کی خپل اسلامی مقاومت په عمل کی ښودلی دی. ټولو اسلامی ډلو او مخصلو مسلمانانو ته پکار دی چی دغه تحریك د الله جل جلاله له خوا د رحم او کرم نښه او علامه وبولی او له دوی سره د مخالفت او دښمنی په ځای مرسته او همکاری وکړی، ددوی متی ور مضبوطی کړی. او ددوی په خلاف له ناروا تبلیغاتو او تومتونو څخه ډډه وکړی.

ټولو مشرانو ته پکار دی چی لږ په خپل گریوان کی سرونه ټیټ کړی خپلواعمالو ته پام وکړی، الله جل جلاله ور په یاد کړی په غیر شرعی تاویلونو باندی الله او مسلمانانو ته ددوکی ورکولو بی گټی کوښښ ونکړی، په خپلو مادی امکاناتو باندی مغروره نشی«خلکو ته ددوی د حساب وخت رانژدی شوی دی او دوی په غفلت کی مخ گرځونکی دی.» (الانبیاء:۱)

و ما علینا الاالبلاغ